# اهل کتاب مه ريښتيني ګڼئ او مه دروغجن، بلکې ووايئ: {آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا}

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه ويلي: اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه لوسته، او په عربي ژبه به يې مسلمانانو ته تفسيراوه، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «اهل کتاب مه ريښتيني ګڼئ او مه دروغجن، بلکې ووايئ: {آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا} [البقرة: 136] الْآيَةَ».{مونږ ايمان راوړی پر الله او پر هغه څه چې مونږ ته نازل شوي دي}

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته په هغه څه له دوکه کېدلو څخه خبرداری ورکړ چې اهل کتاب يې له خپلو کتابونو څخه روايتوي. ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کې يهودانو تورات په عبراني ژبه لوسته؛ کومه چې د يهودو ژبه ده او په عربي به يې تشريح کاوه، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: اهل کتاب مه ريښتيني ګڼئ او مه دروغجن، دا - حکم - په هغه څه کې دی چې رښتيا او دروغ يې ښکاره نه وي؛ دا ځکه چې الله تعالی مونږ ته امر کړی چې په هغه څه ايمان راوړو چې مونږ ته له قرآن څخه نازل شوي دي، او په هغه څه چې دوی ته د کتاب - تورات او انجيل - له لارې نازل شوي دي، مګر دا چې که مونږ وغواړو د هغوی په کتابونو کې د صحيحو او يا غلطو روايتونو په اړه پوه شو بله لار نه لرو پرته لدې چې زمونږ شريعت يې مونږ ته د سموالي او يا ناسموالي په اړه خرګندونه وکړي، نو مونږ ودريږو (توقف کوو )، په دوی باور نه کوو؛ ځکه هسې نه چې مونږ له هغوی سره په هغه څه کې شريک شو چې دوی تحريف کړي دي، او مونږ دوی دروغجن هم نه ګڼو، شايد خبره يې ريښتيا وي، ځکه کېدی شي - په دروغ ګڼلو سره - مونږ له هغه څخه انکار وکړو چې مونږ ته پرې د ايمان راوړلو امر شوی دی، او رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته امر وکړ چې ووايو: {آمنا بالله وما أنزل إلينا وما أنزل إلى إبراهيم وإسماعيل وإسحاق ويعقوب والأسباط وما أوتي موسى وعيسى وما أوتي النبيون من ربهم لا نفرق بين أحد منهم ونحن له مسلمون} (مونږ په الله تعالی ايمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهيم او اسماعيل او اسحاق او يعقوب او د هغوی اولادې ته نازل کړی شوي دي، (او مونږ ايمان راوړی دی) په هغه څه چې موسی او عيسی ته ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) پېغمبرانو ته ورکړای شوي دي، مونږ په دوی کې د هېڅ يو په منځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه الله تعالی [حکم منونکي يو). [البقرة: 136.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65046

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee